مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۳۰

ولي ځينې سندري
په سړي باندې ښې لګيږي؟

ممکن د سندري کمپوز خوندور وي، دومره خوندور چې شعر ته يې چنداني د سړي پام نه شي، شعر د کمپوز په ښکلا کې پټ وي. که د داسي سندرو شعر بدل هم شي ممکن سړی هماغه خوند ځني واخلي. مثلاً د طاهر شباب سندره "يارہ ستا په اننګو کې چې د چا د وينې رنګ دی- زما د پاکې مينې حقيقت په کې څرګند دی" دغه سندره د خپل ښه کمپوز په وجه ښه مشهوره شوه او ممکن د چا پام دې ته نه وي شوی چې شعر يې د قافيې ستونزه لري. يوه نيمه سندره بيا د عالي شعر په برکت د خلکو زړونه خپل کړي. که د دې سندرو شعر بدل کړي نو خپل ارزښت به ونه شي ساتلی، لکه د سردار علي ټکر ګڼې سندرې چې د غني خان شعرونه يې په کې ويلي دي. داسي سندرې معمولاً د هغو کسانو خوښيږي چې په شعر پوهيږي او د شعر پر مانا غور کوي. سړی کولای شي دوی د لوړ ذوق خاوندان وبولي.

داسي سندري هم شته چې شعر او کمپوز يې دواړه عالي وي. که يې شعر بدل کړي هم ښايي خوندوري وي او که د دې سندرو شعر په بل کمپوز کې وبولي نو بيا به هم ښه سندره تري نه جوړه شي.

سندري دوه رنګه جوړيږي: يا خو لومړی کمپوزيتور کمپوز جوړوي بيا شاعر ته وايي چې ما ته د دې کمپوز لپاره شعر جوړ کړه. استاد ګل زمان وايي: "دا ډول کمپوزونه معمولاً ښې سندرې زيږوي." خو دلته د شاعر لاس او پښې يو څه تړلي وي، شاعر مجبور وي د فکر په زور شعر وليکي نه د خيال په مټ. فرمايشي شعرونه معمولاً پيکه وي. د سندرو بل ډول دا دی چې کمپوزيتور لومړی شعر غوره کوي بيا ورته کمپوز جوړوي.

کمپوزيتور بايد د شاعرې په باريکيو خبر وي، په شعر کې د شاعر روحي حالت درک کړي، د کلام موسيقي وپيژني او په دې وپوهيږي چې کوم شعر څه ډول کمپوز غواړي. د امير جان صبوري نوې سندرې خورا مشهورې شوې. دی کمپوز هم پخپله جوړوي او تصنيف هم پخپله ورته ليکي. دې سندرې چې وايي:"هنوز اول عشق است سفر دنباله دارد" ډېر مينه وال وموندل. صبوري د تصنيف له روح سره مناسب ارام کمپوز ورته جوړ کړی و، داسي کمپوز چې له مسافرې اشنا سره د راز و نياز خبرې په کې طبيعي ښکارېدلي، د تضرع او زارۍ تون يې درلود. وروسته بيا شبنم ثريا دا سندره په تېز ريتم کې وبلله. عام ذوق يا بازاري ذوق د شبنم ثريا سندره خوښه کړه. د زرکې مهين رفتار مشهور دی او ډېر مينه وال لري، وجه به يې دا وي چې د زرکي رفتار د هغې له قد و قامت او اندام سره مناسب رفتار دی. که کارغه عين رفتار وکړي ممکن د چا خوښ نه شي. هغوی چې موسيقۍ ته د لوړ هنر په سترګه ګوري، وايي: شبنم ثريا په زرکي پسې لښته راخيستې ده او ځغلوي يې.

د ګلزار عالم يوه سندره ده: " دلويو لويو قدرتونو ربه - يو تمنا ده اوربدی شي که نه – ستا د سکنې سکنې مانښام نه لوګی – د چا د زړه لوګی ليدی شي که نه – ستا د سيلۍ او توپانونو په مخ – يو اسويلی دی درليږلی غواړم – ستا د چپو چپو سيندونو په نوم – لېمه راډک شو څڅولی غواړم - هسې نه چون د خولې ايستل کفر شي – هسې نه تا ته ژړېدل کفر شي" ګلزار عالم دې شعر ته داسي مناسب کمپوز جوړ کړی چې سړی په کې خدای ته د بنده درناوی احساسوي خو په عين وخت کې د ګيلې انداز هم په کې څرګند دی. د وينا تون بلاغي کيفيت لري. دغه جمله "ښه دې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ونه کړل" که په نرم لحن ادا کړو نو د دوستانه ګیلي اثر به لري خو که په توند لحن يې ووايو د رټنې بار به لېږدوي او که لحن مو ډېر شديد شي نو مخاطب ته به د اخطار مانا ولري. د دې سندرې په انتره کې د شعر روحيه بدلېږي، د اعتراض بڼه غوره کوي: "ستا په رضا زما رضا ده ربه – کانې هم نس پورې تړلی شمه – چې بل ښامار په خزانو وويني – اخر انسان يم ځنګه غلي شمه" ګلزار عالم د سندرې په دې برخه کې اواز اوچتوي بالکل هماغسې چې سړی د اعتراض په وخت کې په نسبتاً لوړ اواز غږېږي.

نو سندره هاله ډېر مينه وال مومي او د عالي ذوق د خاوندانو رضايت حاصلوي چې کمپوزيتور د شعر روح ته ورننوځي، د شاعر اروايي حالت درک کړي او کمپوز د شعر له متقضا سره سم جوړ کړي. زمونږ په نويو کمپوزيتوارنو کې شفيق مريد دغه ځانګړنه لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ